مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۲۹

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (پنځه نویمه برخه)

### ډاکټر سید موسی صمیمي

د سید منور شاه زوی په ۱۹۴۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۳ز کال کې د کندهار د احمد شاه بابا له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۵ز کال کې ئې په اقتصاد کې تحصیلي سند تر لاسه کړ. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي اسیستانت. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې په اقتصاد کې ډیپلوم تر لاسه کړ. او په ۱۹۷۷ز کال کې ئې د ,,بُن ، د فریدریک ویلهیلمز" [1] له پوهنتون څخه دکتورا تر لاسه کړله. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي ,,مدرس" [2]. له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د ,,روهر د پوهنتون د انستیتوت نوم په لمن لیک کې وګورئ" [3] څېړونکی. په ۱۹۸۲ز کال کې په ,,وګورئ : لمنلیک" [4] کې. مورنی ژبه ئې دري ده او ورسره برابر په پښتو هم حاکم او پوهېږي.

### عبدالله سنګر

د ,,غوایي له پاڅون وروسته" د لوړو زده کړو د وزارت مرستیال وزیر.

### انجنیر آدینه سنګین

د ببرک په حکومت کې د کابل ښاروال. د خلق دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې علی البدل غړی. د مرکزي کمېټې د اقتصادي ریاست رئیس. په ۱۹۸۳ز کال کې د کابل ولایت د ګوندي کمیټو رئیس.

### ډاکټر عبدالواحد سرآبي

د هزاره له یوې کورنۍ څخه دئ چې په ۱۹۲۶ز کال کې د غزني په سرآب کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې د نجات له ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۹ز کال کې د تجارت په ښوونځي کې ژباړونکی او په عین حال کې زده کوونکی وو او ښوونکی هم وو. په ۱۹۵۴ز کال کې د ویانا له ,,هوخ شولې فیوغ ویت هندل" [5] څخه فارغ سو. په

---

[1] - Bonn, Friedrich – Willhelms University
[2] -Dozent
[3] - Institute fuer Entwicklungs-theorie, Ruhr University
[4] -Deutsche Welle, Cologne
[5] - Hochschule für Welthandel


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۹۵۶ز کال کې ئـې خپله دکتورا په اقتصاد کې ترلاسه کړله. په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي مدرس. په ۱۹۶۰ز کال کې د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي رئـیس او استاد. په ۱۹۶۳ز کال کې د کابل پوهنتون مرستیال رئـیس. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د اقتصاد د پوهنځي رئـیس. په ۱۹۶۷ز کال کې د مشخص وزارت له لرلو پرته د کابینې وزیر. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د پلان وزیر. د اساسي قانون د تسوید د کمیسیون د مشورتي کمـېټې غړی. د پوهنې مډال ئـې تر لاسه کړی دئ. د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ په میاشت کې د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت سلاکار. په ۱۹۸۲ز کال کې د اوبو لګولو وزیر. په ۱۹۸۵ز کال کې د لویې جرګې مرستیال وزیر. د ۱۹۸۵ز کال په ډسمبر کې سلاکار وزیر. ویل کیږي چې د ګوند غړی نـهٔ دئ. مورنی ژبه ئـې دري ده.

## مـحـمـد معصوم سرباز

د ږغوایي له پاڅون وروسته، د کابل د ګوندي حوزي منشي.

## عبدالمجید سربلند

د کندهار بومي اوسـېدونکی. د ۱۹۸۰ز کال له جنورۍ څخه تر ۱۹۸۲ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور وزیر. د مرکزي کـمـېټې او د انقلابي شورې غړی. په ۱۹۸۱ز کال کې د وزیرانو د شورې مرستیال رئـیس.

## مـحـمـد حکیم سربلند

د پکتیا په ولایت کې د ځاځیو د قبیلې په یوې کورنۍ کې زېږېـدلی دئ. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې ئـې حقوق او دیپلوماسي لوستي ده. په «بولدر کې د کولورادو په پوهنتون» [6] کې ئـې تخصص په نړۍ وال قانون کې اخیستی دئ. د باندنیو چارو د وزارت کارمند چې پاکستان، اندونیزیا، د امریکا متحده ایالاتو او ملګروملتونو کې ګومارل سوی وو. په ۱۹۷۸ز کال کې په کراچۍ کې جنرال قـنـسـل. استعفی ئـې وکړه او له مجاهدینو سره یو ځای سو. په ځمکنیو کې د مجاهدینو بولندوی. د ګیلاني له محاذ سره تړلی دئ. په دې وروستیو کې د پغمان د جبهې بولندوی سوی دئ.

**زارع** : وګورئ : زارع

## نیک مـحـمـد سریر [7]

د علي احمد زوی په ۱۹۳۶ز کال کې د کابل په ولایت کې زېږېـدلی دئ. لومړنی زده کړې ئـې په کور کې کړې دي وروسته په ۱۹۴۴ز کال کې د استقلال په لیسې کې شامل سوی دئ او په ۱۹۵۶ز کال کې ورڅخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۶ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې شامل سوی دئ. شاعر.

6 -University of Colorado at Boulder

7 - ددغه نوم مخې ته ئـې په عربي الفباء نیک محمد صریر لیکلي دي. صریرچیغي او ژړا ته وایي حال دا چې سریر د تخت، اورنګ او مسند په معنی ده او زما ژباړونکي په باور همدا سریر بنایي صحیح بڼه وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## جنرال سرجنګ خان ځاځی

د پکتیا د ځاځیو د قبیلې د احمد خیلو د څانګې د ځاځیو د لجه په ولسوالۍ کې په ۱۹۲۴ز کال کې زېږېدلی دئ. د کابل په حربې پوهنتون کې ئې زده کړې کړې او بیا ئې د ترکیې په «ستاف کالج» [8] کې تحصیل کړی دئ. برید جنرال او د بغلان والي او د شلمې فرقې بولندوی. د ۱۹۸۵ز کال په لویې جرګې کې ئې ګډون وکړ. د کابل ښار د استازو د اجرائیوي کمېټې غړی. د ۱۹۸۵ز کال په ډسمبر کې مشاور وزیر. د «الفي» تخلص هم کاروي.

## عبدالاحد سرسام

د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې د کرنې د وزارت مرستیال وزیر.

## غلام شاه سرشار «شمالي»

د بابا صاحب زوی په ۱۹۳۰ز کال کې په پروان کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کې د پروان له ښوونځي او په ۱۹۴۹ز کال د کابل له دارالعمعلمینو څخه فارغ سوی دئ. د ژورنالیست په توګه فعال. په ۱۹۷۷ز کال کې د انیس محرر. مشهور دري ژبی شاعر. د ۱۹۷۸ز کال تر اپریل پورې د «جمهوریت» د ورځپاڼې مرستیال مدیر. په ۱۹۸۳ز کال کې په کابل کې ووژل سو.

## عبدالوهاب سرتیر

د کوچي عبدالغني زوی په ۱۹۴۲ز کال کې په کوهستان کې زېږېدلی دئ. د رحمن بابا له لیسې څخه فارغ او ورپسې د دوه وو کلونو لپاره دارالمعلمینو ته تللی دئ. د اوو کالو لپاره د حبیبیې په لیسې کې ښوونکی وو او ورپسې د استقلال د لیسې ښوونکی سو. په راډیو کابل کې د پښتو پروګرامونو انونسر. شاعر.

## عبدالبصیر سروري

د غوایي له پاځون وروسته د فراه د بزګرانو د کوپراتیفونو د اتحادیې رئیس.

## اسد الله سروري

په ۱۹۳۰ز کال کې په غزني کې زېږېدلی دئ. په شوروي اتحاد کې د چورلکو د پیلوټ په توګه روزل سوی دئ. د داؤود د ۱۹۷۳ز کال په کودتا کې ئې ګډون کړی دئ. د صدراعظم لومړی مرستیال او د انقلابي شوری مرستیال رئیس. د مخفي پولیسو، د اګسا [9] رئیس. د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په میاشت کې د اسدالله سروري ځای د حفیظ الله امین ورارهٔ اسدالله امین د اګسا د رئیس په توګه ونیوهٔ. د مرکزي کمېټې او د انقلابي شوری غړی. د انقلابي شوری د رئیسه هیئت غړی. د سیاسي بیرو غړی. په ۱۹۸۰ز کال کې د منګولیا سفیر. د ۱۹۸۶ز کال د جولای په میاشت کې له کاره وشړل سو.

[8] -Staff College
[9] -AGSA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

### محمد انور سروري

د محمد سرور زوی. په ۱۹۶۷ز کال کي ئي کرنه په پاکستان کي لوستي ده. د کرني په وزارت کي عمومي مدير. د «غوايي له پاخون وروسته» دولتي ملکيت ته د را انتقال سويو املاکو رئيس.

### عبدالرسول سیاف (عبدالرب رسول سیاف)

د فقير محمد زوی، په ۱۹۴۶ز کال کي کابل ته نېږدې په پغمان کي زېږېدلی دئ. دی شپږ کلن وو چي پلار ئي وفات سو. په ۱۹۵۷ز کال کي په پغمان کي له لومړني ښوونځي څخه له فراغت وروسته د پغمان په منځني ښوونځي کي شامل سو. ورپسي د ابو حنيفي په مدرسي کي شامل سو او په ۱۹۶۳ز کال کي ورڅخه فارغ سو او بيا د کابل پوهنتون د شرعياتو په پوهنځي کي شامل سو او په ۱۹۶۷ز کال کي د شرعياتو له پوهنځي څخه د منن ليک/ وياړ ليک په اخيستلو سره فارغ سو. د عسکري له خدمت څخه له معافيت وروسته د شرعياتو په پوهنځي کي د تدريسي اسيستانت په توګه مقرر سو. سياف د حديثو علوم تدريس کړل. له دوه وو کالو تدريس وروسته د الازهر پوهنتون ته د لا نورو زده کړو لپاره ولېږل سو او دلته ئي هم خپله ماستري د منن ليک/ وياړ ليک په اخيستلو سره ترلاسه کړه. په ۱۹۷۲ز کال کي افغانستان ته راستون سو او د پوهنيار په توګه ئي د کابل په پوهنتون کي تدريس ته دوام ورکړ. د شريعت په نوم نشريه ئي خپره کړه. په ۱۹۷۴ز کال کي په داسي حال کي چي د امريکا متحده اياالاتو ته د قانون په برخه کي د روزني لپاره روان وو، د کابل په نړی وال هوايي ډګر کي د استخباراتو د مأمورينو له پلوه ونيول سو. څه دباندي ۵ کاله ئي په زندان کي تېر کړل. په ۱۹۸۰ز کال کي له نورو زندانيانو سره آزاد سو. ورپسي د افغانستان د آزادۍ لپاره د مجاهدينو له اسلامي اتحاد[10] سره يو ځای سو. د اکثريتو له پلوه د ولسمشر په توګه وټاکل سو. په عربي ژبي کي فصيح البيان وياند يا نطاق دئ. په نړی والو کنفرانسونو کي د ګډون لپاره اکثراً ډير سفرونه کوي. وادۀ ئي کړی دئ او درې بچيان لري.

## نور بیا

### سید عبدالله

د حبيبيي له ليسي فارغ سوی دئ. ښوونکی او د معارف د وزارت کارمند. د...

## [قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک]

[10] - Islamic Alliance for the Liberation of Afghanistan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ